خپروونکې: زماني ویب پاڼه

ZAMANI FAMILY

ډاکټر عبدالرحمن زماني

جنوري ۱۴مه، ۲۰۲۱

# داروانښاد عبدالله غمخور په یاد

دجنوري دمیاشتې ۱۴مه نیټه د پښتو ژبی د نامتو لیکوال، شاعر او ادیب اروانښاد عبدالله غمخور د مړینې د یولسمې کلیزې سره مصادفه ده. زمونږ ګڼ شمیر هیوادوال د خداې بخښلي غمخور صاحب داشعارو، لیکنو او افکارو سره آشنائي لري. هغه د وران - ویجاړ افغانستان دکړیدلو خلکو ریښتیني غمخور او دپښتو ژبې هغه غښتلې ملي شاعر و، چې پاک احساسات او روښانه ضمیر یې د روانو او ملي اشعارو په ائینه کې په ښه توګه ثرګند شوي دي. هغه لکه ثنګه چې دخپل طبیعي او ټولنیز چاپیریال محصول و، نو اشعار یې هم دیوه حساسه انسان په توګه دخپل همدغه چاپیریال دروانو پیښو او حالاتو ثخه متاثره وو. غمخور صاحب دحماسو او رزمونو شاعر و. د هغه د خوږمن او دردیدلي زړه کړیکې، او دقلم لیکې، دخپل کړیدلي ولس د دردونو او غمونو ثړیکې منعکس کولې.

دوطــن له درد او غمه په ژړا یم     دتــاریخ دعظمتونــو پــه غــوغا یم
سترګې نشم پټولاې په جرمونو     ثه چې وینم، ثه چې ګورم هغه به وایم

اروانښاد عبدالله غمخور لکه ثنګه چې یې ویل دخپل خوږمن زړه نه مجبور و، ثه چې به یې زړه غوښتل، هغه به یې ویل، او په ثه چې یې زړه دردیده، نو په هغه به ژړیده. دهغه دزخمي زړه ثړیکې، دژوبل احساس فریاد، دنیاز لمن، او دآزادۍ پیغام دوخت دآواز په توګه مونږ ته په چاپ شوي ښه په لویه هنګامه، یادونه، دآزادۍ غوغا، دثورې په مخ، دکابل اوښکې، دغمخور کلیات، دضمیر آواز، او تاثرات کې راپاتې دي.

عمر مې تیر شو په جنګونو په غوغا واوښتم     کور مې خراب شو په مرګونو په هی ها واوښتم
کــم نصیبي کــه کم بختي ده نه پوهیږمه پرې     له یوې بــلا نه نه یم خلاص په بلې بــلا واوښتم

هغه به ویل چې زما لیکنې او شعرونه دخپل -خپل وخت د ډول - ډول تاثراتو مصوري ده، چې بیلګې یې هر وخت خلکو ته وړاندې شویدي. پرون یې زمونږ حال داسې بیانوه چې:

زه دبارانه تښتیدمه دناوې لاندې شوم        له کوتکونو ویریدمه داړې لاندې شوم
ما دسردار دبرو بزن نه ګیله کوله        چې ناګهانه دلیوانو د حملې لاندې شوم

بیا دخپل وطن پرېښودو او هجرت ته مجبوره شو:

سره ورځ ده راغلې سره اورونه لګیدلي دي    کور په کور بمونه له اسمانه وریدلي دي

کلي تالا شویدي کورونه سوزیدلي دي    ځوک په زړه داغلي ځوک په وینو لمبیدلي دي

رنګ دبلبلانو په سرو وینو دا چمن شو        ځم له دې وطنه
سرې لمبې ترې خیژي اور مې ګډ په باغ و بڼ شو        ځم له دې وطنه

په هجرت کې یې په تپل شوي زعامت نیوکې کولې چې:

لکونه پکې ورک شو خو ځو تنه شو آباد    جهاد دې زنده باد وي
رهبر دې وي خوشاله نور عالم که وي ناښاد    جهاد دې زنده باد وي

یا دا چې:

ځوک منصبونه خوري ځوک ماجبونه خوري    ځوک دغازیانو غوښې، ځوک یې هډونه خوري
ځوک دقدرت په هڅه دپاچاهۍ خوبونه    ځوک په غمونو کې ډوب دقام غمونه خوري

بیا یې په پېښور کې دترور شوو افغاني شهیدانو په وینو سرې لارې کوڅې یادولې چې:

په رڼا ورځ چې قتلیږي دا دچا بچي دي        په اور دظلم چې وریتیږي دا دچا بچي دي
نه یې ګناه نه یې خطا او نه یې جرم معلوم        چې بې قصوره حلالیږي دا دچا بچي دي
چې ګورا او کورا او پېښور ورته یو شوي دي نن        چې سر او مال یې تالا کیږي دا دچا بچي دي

په بل پړاو کې یې ویل چې:

که دسر امن غواړې نو طالبانو له ځه        که تور سپینوې نو ملایانو له ځه
که دې جګړو ته وي نیت قومندانانو له ځه        که دقدرت وږی یې نو رهبرانو له ځه

هغه داوسني پړاو په هکله ويل چې:

پرون و روس وژلي نن يې امريکا وژني     دافغانانو بچي په واويلا وژني
دخپل غرض لپاره ددهشتگرو په نوم     دخپل مقصد دپاره د بنستهگرو په نوم
په دې پلمه او نامه وژلي بيا وژني     دافغانانو بچي په واويلا وژني

غمخور صاحب که څه هم دژوند په وروستيو شپو ورځو کې دزړه په رنځ اخته و، خو نه يې قلم کيښود او نه يې دوطن دردو غم پريښود:

زه دزړه په رنځ اخته يم زه دځو ورځو مهمان يم     له ژوندونه لاس ختلې الوداع کوم روان يم
غاړه وځمه هرچاته دديدن وروستۍ شيبې دي     کاښي بوتي ښکلومه په غوغا او په فغان يم
دوطن ددردو غمه حال مې څه پوښتې همدمه     زه دسرو سترگو ژړا يم زه دسرو اوښکو باران يم

غمخور صاحب دردېدلي ملت او تالا شوي وطن د آيندې په هکله مايوسه نه و:

داوطن به خداى اباد کړي مونږ به نه يو     دهرچا زړگى به ښاد کړي مونږ به نه يو
داچې نن خانه بدوش دي در په دره     دابه هم په خپل مراد کړي مونږ به نه يو

د اروا ښاد غمخور صاحب روح ته ددعا په کولو سره دپاک خداى دربار ته لاسونه لپه کوو چې دهغه دغه وروستۍ تمنا پوره کړي چې ويل يې:

يرغمل شوې ملت خلاص له يرغلگرو نه کړې     له ظالمانو خونخوارانو دهشتگرو نه کړې
دخودغرضو دغرض لاسونه پريکړې ربه     دافغانانو گريوان خلاص له ستمگرونه کړې

(پاى)